Dialogue Social Science Review (DSSR)
www.thedssr.com

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

Vol. 3 No. 4 (April) (2025)

# د غني خان نظم " میږے " ته اسلوبیاتي کتنه
# A Stylistic Review of Ghani Khan's Poem "Ant"

**Wahid Ullah**
Graduate, Department of Pashto, Islamia College Peshawar.
Email: www.wahidullahmubassir23@gmail.com

**Jalal Uddin**
Graduate, Department of Pashto, Islamia College Peshawar.
Email: www.bahar1014@gmail.com

**Abstract**
The crux of this paper is to discuss the old and new classical literature.It starts from Akbar Zameendawar and focuses upon Roshanites,then Khushhal Khan Khattak,and contributions of his family, and the light has been shed on the works of Rahman Baba,and Hameed Baba.An attempt has been made to discuss literary trends if Twentieth century,and it's stylistics.Ghani Khan,a unique poet of the century,too,has been discussed comprehensively. The unmatched Ghani,a multidimensional literary figure,had a vast study of Western literature,but had a tight grip on his own traditional poetic approaches, composing poetry with his own diction so his this aspect has particularly been discussed in details.His poem,"Mege" has been taken unearthing Ghani's pure diction,style, language, etc, all cover the symbolic aspect of the poem.So it all indicate the Ghani is not only a modern poet but has also roots from the traditional and classical poetry as well.

**Keywords:** Ghani Khan, Stylistics, Linguistics, Poetry, Pashto Literature, Modern Poetry

په نړۍ کښې بېلابېل قامونه ژوند کوي او بیا په تېره تېره د هر یو قام خپله ژبه وي , خپل کلتور وي , خپل ئې نفسیات او فرهنګ وي هم په دغه لړ کښې د روښاني دوړې نۀ را واخله تر د خوشحال بابا کورنۍ او چې کله ددې نه تر شلمې صدۍ را رسو نو په دې صورت کښې د هر یو دوړ خپله ځانګړنه ده. د نظم نثر په خواله بیا د هر شاعر او ادیب خپل خپل اسلوب او ژبه ده, خپل ئې ځانګړے اظهار دے, خو دلته دې دا خبره په نظر کښې وي چې د څۀ وئیلې په ځائې د څنګه وئیلې خبره د نقد په لړ کښې ډېر ارزښت لري. د اسلوب په لړ کښې ډاکټر بشرئ اکرام څۀ داسې وائې:

اسلوب Stylistics

> "د نورو نه په جدا طریقه د وېنا یا لیک انداز ته سټائل وئیلے شي. ددې سټائل مطالعې ته Stylistics ) وئیلے شي. زیات تر د ادبي ژبې په تجزیه باندې زور ورکوي لکه مثال په توګه د یو ادیب یا لیکوال د ژبې د سټائل تجزیه یا د یو ادبي صنف لکه ناول , ډرامه , شاعري , افسانې د نظم د ژبې تجزیه ده" 1

د هر یو لیکوال د لیک خپله خپله ځانګړنه وي او د هغې په مناسبت سره د هغه سټائل او د ژبې اظهار د ادیب په فکر او تخیل کښې ډېر جوت ښکاري. د اسلوبیاتو په خواله مستشرق ریچرډ بارډفر څۀ داسې وائې:

> "Stylistics is an elusive and slippery topic. Every contribution to the vast and multifaceted discipline of literary studies will involve an engagement with style. To

Dialogue Social Science Review (DSSR)
www.thedssr.com

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

DIALOGUE SOCIAL SCIENCE REVIEW

Vol. 3 No. 4 (April) (2025)

> accept that the subject of our attention or our critical essay is a poem, a novel or a play involves an acceptance that literature is divided into three basic stylistic registers. Even a recognition of literary studies as a separate academic sphere is prefigured by a perceived distinction between literary and non-literary texts. Stylistics might thus seem to offer itself as an easily definable activity with specific functions and objectives: Stylistics enables us to identify and name the distinguishing features of literary texts.” 2

اسلوبیات په لسیانیاتو کښې د یؤ شاخ اؤ د یوې څانګې نوم دے چې دا د یؤ شاعر ادیب د شاعرۍ اؤ نثري فن پارې سره ډېره زیاته علاقه لري. د دې نه د یؤ شاعر تخلیق کار د لیک اؤ د هغه د مطالعې اؤ مشاهدې اندازه کېږي, دغه اظهار په لیک کښې ډېر څرګند لیدلے شي. د هر یؤ دؤر د شاعرۍ اؤ نثري لیک خپله ځانګړنه وي. اسلوبیات د سائنسي مطالعې د اظهار نوم دے اسلوبیات د یوې ژبې د نظم اؤ نثر د لیکلو سټائل ته وئیلے شي .

د اسلوبیاتو د پېژنګلو نۀ روستو به دلته د غني خان په شاعرانه ځانګړي اسلوب باندې کره کتنه کېږي اؤ سره د دې به د غني خان په شاعرۍ کښې په تشبیه باندې باحث کېدلے شي .

د غني خان ځانګړي اسلوب:

د پښتو ادب په مېدان کښې شلمه صدي د جدیدو شاعرانو یؤ لوئې بهیر لري اؤ بیا د شاعرۍ په خواله په دې صدۍ کښې د غني خان ځانګړے اسلوب اؤ منفرد تخلیق ډېر ممتاز حیثیت لري اؤ دا د غني خان خپله جوړه کړې لاره وه چې په نظم کښې ئې نوي نوي تجروبې وکړې اؤ هغه د غني خان د شاعرۍ بېلابېل رنګونه لکه رومانیت , ځانګړے تخیل اؤ د فکري آزادۍ په خواله غني خان خپله لاره پېدا کړه چې په دې لاره تګ په شلمه صدۍ کښې هیچا جرأت ونه کړے شو چې په دې لاره مزل شورع کړي. په نظم کښې دننه آزادي پېدا کول د غني د لوئې تخیل ستره مشاهده ده. د غني خان په شاعرۍ د خپل چاپېریال اؤ علاقي لهجې اثرات ډېر ښکاره دي. دغه اسلوب د غني خان شعوري خڅه ده ځکه چې غني خان که یؤ خوا د تخیل شاعر دے نو بلخوا د فکر شاعر دے اؤ د شاعرۍ په تله د غني شاعري تلل پکار ځکه نۀ دې چې په دې خواله هغه پخپله په یوه مرکه کښې ډاکټر حنیف خلیل ته څۀ داسې وائې :

> " زۀ خو وائم چې ګنی دا اعتراضونه به اوس ختم شوي وي. ما چې کله ابتدائی شاعرۍ کوله نو دا خبرې به ډېرې کېدلې. خبره دا ده چې اوس خو په شاعرۍ کښې ډېرې تجروبې شوی دی. ازاده شاعرۍ رواج شوه او زۀ خو هسې هم د دې خبرو په ځاې د تخیل قائل ئم " 3

دا خبره غني خان هغه وخت پخپله وکړه چې کله د هغه په شاعرۍ په فني خامیو اعتراضونه شورع شول. په دغه صورت کښې دا د غني خان په شاعرۍ کښې معنوي رنګ لري خو که بل اړخ ته خیال وکړے شي نو غني خان د تخیل اظهار ډېر رومانوي , منفرد اؤ جانانه اسلوب دے اؤ دغي انفرادیت د غني د ژبې فطرتي رنګونه په کلیواله سوچه لهجه کښې لکه د عامو خبرو په خپله شاعرۍ کښې ځائې کړي دي.
د غني خان په شاعرۍ کښې د فطرت د مستو جذبو بېلابېل رنګونه ډېر جوت ښکاري اؤ هغې ښکلاګانو اؤ فطرتي حقیقت په خواله ایمرسن داسې وائې :

> "د فطرت غېږه کښې ډېر څۀ دي. د چینې خوږې اوبۀ , د ځنګل هغه اور چې په یخنۍ کښې ئې مونږه د یو بوتکي ( ماشوم ) غوندې سینې سره کلک ونخښلو او .... د فطرت په غېږه کښې چې کله مونږه بره شین اسمان ته ګورو نو دغلته رومان او حقیقت غاړه , غړۍ والاړ وي.... د فطرت دغه جادوګري ډېره صحت بخشه او روح پروره ده او هم دا زمونږه د وحشت او بې ډولۍ علاج دے. رښتیا خبره خو دا ده چې د هر قسمه تکلفاتو نه پرته خوشحالۍ چې زمونږ د خپل مزاج او فطرت

Dialogue Social Science Review (DSSR)
www.thedssr.com

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

DIALOGUE SOCIAL SCIENCE REVIEW

Vol. 3 No. 4 (April) (2025)

سره سمون خوري او زمونږ د ذات سره طبيعي مناسبت لري, دغه هرڅۀ مونږه د
فطرت په غېږه کښي مومو اؤ هم دغه غېږه کښي د ځان پېژندني ( عرفان ذات )
منزل ته رسو او خپل ځان ووپېژنو " 4

که يؤ خوا په کائنات کښي دغه خور ور حسن د , ګلونو , چينو اؤ د فطرت په غېږه کښي مستی ته بنده ځېر شي نو د ګل په کلهم کائنات کښي د قدرت ښکلا يؤ په دوه ښکاري دې فطرت د حقيقي ژوند په غېږه د غني خان اپيروچ ډېر ځانګړے اؤ هغه ځکه چي غني خان د تخيل شاعر دے

د غني خان په نظم " ميږے" کښي شاعرانه تشبيه:

يؤ تخليق کار ليک په دوران کښي د خپل مقصد اؤ مدعا ښکاره کولو په صورت کښي يؤ څيز د بل څيز په شان ځکه ګرځوي چي لوستونکي په آسانی سره پوهه شي. د مقصد ښکاره کولو ته تشبيه وائي د تشبيه په خواله مشتاق مجروح يوسفزے څۀ داسي وائي :

"د تشبيه لغوی معنی د مشابهت , پهـ شان , پهـ څېر ,پهـ مثل ده اعنی د يؤ څيز د څهـ
خاص صفت پهـ وجه د بل پهـ شان ګرځول چي د اورېونکي يا لوستونکي پهـ زړهـ
کښي هغه څيز وهـ ګرځی. بل دا چي هغه صفت پهـ دواړو کښي موجود وی خو دا
خبره ضروری ده چي کوم څيز له تشبيه ورکولے شی اؤ څهـ سره تشبيه ورکولے
شي اعنی مشبه به کښي به کم نه کم يؤ قدر مشترک وی۔ " احمد لکه د زمری
بهادر دے " پهـ دوی دواړو کښي د بهادری قدر مشترک دے" 5

د غني خان شاعري د ډېرو ګلونو مجموعه ده اؤ تېر څېر دغه ټول ښلابښل رنګونه د غني خان په شاعری کښي ډېر جوت ښکاري. دلته د غني خان شاعرانه تشبيه وړاندي کولے شي اؤ جوته به شي چي دغه ځانګړے اپيروچ په کم ډول دے لکه چي غني خان وائي:

اوږد کاروان ستا ګرم روان وي
سم په قطار لکه اوښان

دلته د غني خان رسا فکر ډېر منفرد دے اؤ هغه داسي چي که يؤ خوا ميږے دے نو هغه ډېر وړوکے دے خو بل اړخ ته دغه ميږے خواري کښ هم دے نو ځکه غني خان ميږي له د اوښ سره تشبيه ورکړي جواز دا دے چي ميږے ډېر محنتي دے لکه د اوښ د شپې اؤ ورځي چلند کوي.

ميږے پخپله د يؤ فرد سره تشبيه ده دلته په ميږي کښي يؤ بل کار دے چي هغه هم ډېر د قدر وړ دے هغه داسي چي دا ميږے نر اؤ بهادر دے سره د دې څۀ حکم ورته وکړے شي په هغې ښۀ کلک روان وي اؤ خپل منزل لار په مزل تر سره کوي اؤ دغه حکم ورته داسي ښکاري لکه خپل افسر اؤ دا ميږے د دې خپل ټول نظام لکه د انګريز په هر وخت اؤ حالاتو کښي تابع وي لکه چي غني خان ورته ايشاره کړي :

په حکم کلک روان د خپل افسر ئے
د خپل نظام تابع لکه انګريز ئے

د غني خان شاعرانه کمال دا دے چي په حشراتو کښي دننه د انسان خوئ بوئ لټول د ډېر منفرد شاعر تخليقي خڅې وي.

د غني خان اسلوب ډېر ځانګړے ځکه دے د هغه په شاعری د خپل ماحول ټول رنګونه خواره واره دي ډاکټر نصرالله خان د شاعرانه اسلوب په خواله خپل نظر وړاندې کړے :

"اسلوب د جذباتو رپارولو کار کوي اؤ فکرونو ته ښکلے لباس اغوندوي. اسلوب
عبارت مؤثره اؤ کوي. اسلوب عارضي اؤ انتقامي څيز نۀ وي بلکي فطري څيز
وي چي د ذوق نه حاصلېږي. اسلوب يؤ سماجي عمل دے ښۀ اسلوب کۀ شعوري
وي يا لا شعوري وي خو د ژوند اؤ ماحول يا چاپېرچل ترجمان وي " 7

Dialogue Social Science Review (DSSR)
www.thedssr.com

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

DIALOGUE SOCIAL SCIENCE REVIEW

Vol. 3 No. 4 (April) (2025)

غني خان د تخیل شاعر دے د فطرت په غېږه کښې په حشراتو کښې انساني اقدار لټول ژوند ته بلې زاوئې نه ځانګړے فکر دے .

الف )
د اسلوب ماخذ :
د اوچت اسلوب دپاره د لوړ تخیل ژورې مطالعې او مشاهدې ضروت وي چې د اسلوب په روزنه کښې پوخوالے پیدا کوي.
ب )
د جذباتو شدت:

شدت د جذباتو په هغه صورت کښې پیدا کېږي چې کله لهجه د عظمت په لور مزل کوي چې کله جذبه د پښتنو وي چې چرته خیال د اسمان په کنارو ورسر وي هلته اظهار ډېر توانا او جانانه وي او په دې خواله د غني خان کلام ددې ښکلې نمونه ده.

په مېرې کښې یو بل خوئ دا دے چې مېږے حداره ډېر زیات دے خپل بوج په خپله نرئ ملا پخپله وړي کچ ځیز دے خو وزن باري وړي په دغه صورت کښې چې کله مېږے د خپله کوره رابهر شي نو لے په لے ګرځي او چې څۀ مومي هغه ځیز په خپله ځان بار کوي او د جمع کولو چل خو بیا مېږي زده دے. د شوم سړي سره مېږې له تشبیه ورکول د غني خان د ماحولیاتي اثراتو اثر دے او شوم سړے مال ټول په زمکه خښوي دلته به جوت شي :

د پیدا کولو آفت د جمع کولو بلا
لکه د شوم خښوے زمکه واړه دنیا

انسانان په دنیا کښې لګیا دي مال جائیداد جمع کوي او په دې چل شوم حلق ډېر پوهه دي او دا خوئ د ځان ځاني عمل دے دلته د انسانیت د لوړې قدر د زمکې سره زمکه شي. په کائناتو کښې نن ورځ اولسونه لګیا دي او خپل ځان د دپاره د خیتې په غلامۍ کښې اخسته دي دغه د خیتې او ډوډۍ په چکر کښې که مېږے دے او که انسان دے خو شپه ورځ لګیا دے مال او دولت زخیره کوي.

ت )
د ژبې عظمت:

د اسلوبیاتو په مېدان کښې پکار ده خو دا ده چې چې په هغې ژبه کښې ساده والے او رواني لازمي پکار ده ځکه چې اولس په ژبه کښې ګراني خبرې اساني کول غټ خیال په وړه جمله کښې بیانول دا د شاعر ادیب فن ښکلا ده او دا هنر دے.

د شاعرانه خیال په لړ کښې ډاکټر نصرالله خان داسې وائي:

> "ادیب یا شاعر چې د اولس جذبات په کومه طریقه یا شاعرۍ راپاروي هغه نېچر یا فطري شاعري وي. ادیب یا شاعر د منظرونو مشاهده کوي او د دغه چاپېرچل نه اثر قبلوي , دغه منظرونه په داسې شعري اسلوب کښې ترې چې لوستونکي یا اورېدونکي هم د ځان سره شریکوي , څنګه جذبات او احساسات چې د ادیب یا شاعر وي هم دغه اثر په لوستونکو یا اوربدونکو باندې هم کوي " 8

اوچت خیال د شاعرانه اسلوب د عظمت ستر علامت وي او تخلیق کار خو هغه څۀ قلم بند کوي چې څۀ د هغه د مطالعې مشاهده او تجروبه په دغه زاویو کښې هر تخلیق کار د خپل چاپېرچل غلام دے او د غني خان خپله کلیواله لهجه خپل ځانګړي لفظونو او د لفظ په غېږ کښې د جذبې شدت په ډېر هنر او کمال سره ورکول د غني د شاعرانه اسلوب د رسا تخیل کمال او فن دے .

د قارون غټ کار دا ؤ چې هغه به ډېر مال دولت جمع کولو او د خزانو په حرص کښې هغه ډېر مشهور ؤ داسې

ISSN Online: 3007-3154
ISSN Print: 3007-3146

DIALOGUE SOCIAL SCIENCE REVIEW

Vol. 3 No. 4 (April) (2025)

بلها انسانان دي هغوي دغه خوئ په برخه دے. غني خان دی طرف ته د اولس پام راګرځول لوئي شاعرانه هنر او کمال دے په کائناتو کښي انساني ټولنه مخ په وړاندې تګ د يوبل سره په مدد کولو کوي دغه بد خويونه چې غني خان ورته ايشاره کړي دغه د قارون تشبيه راوړل دلته په ټولنيز ژوند کښي د اولس مرض ګرځېدلے لکه چې وائي :

ستا طبيعت د قارون دے د خزانو شوقی
مئين په هره ميوه د هندوانو شوقی

د غني خان په شاعرئ کښي د انساني بد خويونو سره سره په حيواني موضوعاتو لکه په ځناورو , حشراتو , مارغانو وغيره وغېره نظمونه ليکلي دي نو دا غني د اوچت فکر او تخيل ښکلي علامتونه دي او دي لکه چې پورته ذکر شول چي د ستا طبيعت د قارون دے نو دغه ډول که هغه انسان دے او که ميږے خو د خيټي په غم کښي ځان په سر اخستے او شپه او ورځ لګيا دي ماره نه شول او دا ډېر بد مرض دے.

حوالي-:

1. بشرئ اکرام ډاکټر ژبوهنه پښتو اکېډمي پېښور يونيورستي چاپ کال 2018ء مخ: 316
2. Richard Bradford, The new Critical idiom , First Published by 1997, This edition Published in the Taylor & Francis e- Library 2025.
3. حنيف خليل ډاکټر آئيني ادب محل ستي ټاور کابلی بازار پېښور چاپ کال جنوري 2021ء مخ: 148
4. Ed. by Edward Essay From Basie Selection from Emerson, New York: New America Library , 1954
5. يوسفزے مشتاق مجروح زرکانے قلندر مومند ريسرچ سېل ايډيشن شپږم 2019ء مخ: 33
6. نصرالله خان ډاکټر ادب تحقيق او د تحقيق أصول منګل کتاب کور محله جنګي پېښور چاپ کال 2019ء مخ: 36
7. خان غني کليات خپرونکے د قومونو او قبايلو وزارت د نشراتو رياست چاپ کال 1985ء مخ: 529
8. نصرالله خان ډاکټر ادب تحقيق او د تحقيق أصول منګل کتاب کور محله جنګي پېښور چاپ کال 2019ء مخ: 44

## References

Ikram Bushra, Dr., zhabpohana, Pashto Academy, Pekhawer University, 2018, p. 316
Richard Bradford, The New Critical Idom, Tyler @ Francis E-Library, First Edition, 1997
Khalil Hanif, Dr., Ayenee, Adab Mahal, Pikhawer, January 2021, p. 148
Ed. By Edward Essay From Basie Selection From Emerson, New York: New America Library, -1954
Yousafzai Majrooh Mushtaq, Zarkanay, Qalandar Momand Research Sale, Sixth Edition, 2019, p. 33
Khan Nasruallah Dr., Adab Tahqeeq Aw Da Tahqeeq Usool, Mangal Kitab Kor, Pekhawer, 2019, p. 36
Khan Ghani, Kuliyat, Da Qamono Aw Qabayelo Wazarat, 1985, p. 529
Khan Nasruallah Dr., Adab Tahqeeq Aw Da Tahqeeq Usool, Mangal Kitab Kor, Pekhawer, 2019, p. 44